# په اسلام کې
# د ځوان او ځوانۍ
# اهمیت

لیکوال: دکتور رحمت الله زاهد

# په اسلام کې

# د ځوان او ځوانۍ اهمیت

لیکوال : دکتور رحمت الله زاهد



Download from: aghalibrary.com

# په اسلام کې د ځوان او ځوانۍ اهمیت

الله تعالی د ټولو مخلوقاتو دوه ډوله پیدا کړي دي، یو هغه چې مکلف نه دي، په هغوی کوم عبادت فرض کړی شوی نه دی، او نه به له هغوی څخه پوښتنه کولې شي، بلکه هغه په فطري او پیدائشي ډول د الله تعالی د حکمونو پابند دي، او د کوم هدف لپاره چې الله تعالی پیدا کړي دي هغه په ښه ډول سر ته رسوي.

دوهم ډول هغه مخلوق دی چې هغه مکلف دی، پر هغې باندې الله تعالی خپل حکمونه عملي کول فرض کړي دي، هغه ته یې د خپلې تابعدارۍ امر کړی دی، او د هغې د ژوند تیرولو لپاره یې بیلا بیلې طریقې او قوانین برابر کړي دي.

بیا د مکلف مخلوق دوه ډوله دي،یو هغه چې په هیڅ وخت کې د الله تعالی د حکمونو نافرمانۍ نه کوي، او د خپل فطرت سره د الله تعالی د حکمونو داسې پابند دي لکه چې په هغوی کې د مخالفت توان نه شته، دا فرشتې دي، چې د هغوی په هکله قرآن کریم وایي:



Download from: aghalibrary.com

﴿ الممتحنة الصف الجمعة المنافقون التغابن الطلاق التحريم الملك القلم ﴾ **التحریم: ٦**

«هغوی د الله تعالی د حکم څخه سرغړونه نه کوي او هغه څه کوي د کوم چې ورته حکم کولې شي».

د مکلف مخلوق دوهم ډول هغه دی چې په هغې کې د خیر او شر، نیکۍ او بدۍ، عبادت او مخالفت، تابعدارۍ او نافرمانۍ صلاحیت شته، هغه په خپله خوښه د الله تعالی د حکمونو تابعداري هم کوي او نافرماني هم، په دنیا کې په هغې باندې هیڅ قسم پابندي نه شته:

﴿ أَعُوذُ بِٱللَّهِ مِنَ ٱلشَّيْطَٰنِ ٱلرَّجِيمِ ﴾﴿ الأنعام ﴾ **الکهف: ٢٩**

« د چا چې خوښه شي ایمان دې راوړي او که خوښه یې شي کفر دې وکړي»، خو د هر یو انجام معلوم دی.

دا ډول مخلوق بیا دوه قسمه لري: انسان او جن (پیریان)، د دې دواړو د پیدائش د هدف په هکله الله تعالی فرمایي:

«ما پیریان او انسان د خپلل عبادت لپاره پیدا کړي، نه زه د هغوی څخه رزق غواړم، او نه ورڅخه د خوراک غوښتنه کوم، دا خو



Download from: aghalibrary.com

الله دی چې رزق ورکونکې او د کلک قوت څښتن دی».
**الذاريات: ٥٦ – ٥٨**

د انسانانو او پیریانو د ژوند اصلي هدف د الله تعالی عبادت کول دی، تر څو د عبادت په نتیجه کې الله تعالی راضي او دوی د جنت مستحق وګرځوي، او په دنیاکې چې څومره رزق د هغوی لپاره مقرر دی بې له کمې او زیاتې یې هغوی ته ورکوي، نو کله چې انسان خپل هغه مقصد پوره کړي د کوم لپاره چې پیدا شوی دی نو د دنیا رزق خو هسی هم هغه ته ورکول کیږي، په آخرت کې به جنت هم ورکړل شي، خو که انسان د رزق په ګټلو کې د الله تعالی د عبادت څخه غافله شي، نو رزق به د خپل مقدار په اندازه لاس ته راوړي خو د جنت د لاس ته راوړنې څخه به محروم شي.
بیا په هره نوعه کې د خپل عمر، قابلیت او نورو وجوهاتو له امله بیلا بیلې مرحلې وي او د هرې مرحلې خپلې غوښتنې وي چې د هغې پوره کول ضروري وي، انسان الله تعالی په ډیر ښه ډول د اوچتو صلاحیتونو سره پیدا کړی دی:

﴿ لَقَدْ خَلَقْنَا الْإِنسَانَ فِي أَحْسَنِ تَقْوِيمٍ ﴾ التين: ٤

«په تحقیق سره مونږ انسان په ډیر ښه جوړښت سره پیدا کړی دی»

هغه یې په دنیا کې د خلافت او امامت مستحق ګرځولی دی:

﴿ وَإِذْ قَالَ رَبُّكَ لِلْمَلَائِكَةِ إِنِّي جَاعِلٌ فِي الْأَرْضِ خَلِيفَةً ۖ قَالُوا أَتَجْعَلُ فِيهَا مَن يُفْسِدُ فِيهَا وَيَسْفِكُ الدِّمَاءَ وَنَحْنُ نُسَبِّحُ بِحَمْدِكَ وَنُقَدِّسُ لَكَ ۖ قَالَ إِنِّي أَعْلَمُ مَا لَا تَعْلَمُونَ ﴾

البقرة: ٣٠

«هغه وخت د یادولو وړ دی کله چې ستا رب فرشتو ته وویل زه په زمکه کې یو خلیفه پیدا کووم»، بیا یې دغه انسان د فرشتو مسجود وګرځوو:

﴿ وَإِذْ قُلْنَا لِلْمَلَائِكَةِ اسْجُدُوا لِآدَمَ فَسَجَدُوا إِلَّا إِبْلِيسَ أَبَىٰ وَاسْتَكْبَرَ وَكَانَ مِنَ الْكَافِرِينَ {البقرة: ٣٤}

« او (هغه وخت هم د یادولووړ دی) کله چې مونږ فرشتو ته حکم وکړ چې آدم ته سجده وکړئ، نو د شیطان پرته ټولو سجده وکړه».

الله تعالی انسان ته عزت او کرامت ورکړی دی، د هغه لپاره يې په اوبو او وچه کې د سفر اسانتیاوی برابرې کړدي، او د هغه د خوراک لپاره يې ښه ښه شیان پیدا کړي دي:﴿ وَلَقَدْ كَرَّمْنَا بَنِي آدَمَ وَحَمَلْنَاهُمْ فِي الْبَرِّ وَالْبَحْرِ وَرَزَقْنَاهُم مِّنَ الطَّيِّبَاتِ وَفَضَّلْنَاهُمْ عَلَىٰ كَثِيرٍ مِّمَّنْ خَلَقْنَا تَفْضِيلًا ﴾ **الإسراء: ٧٠**

« په تحقیق سره مونږ د آدم (علیه السلام) اولاد سره عزت ورکړی دی، هغوی له مې په وچه او لمده کې سورلۍ ورکړي دي، او د خوراک لپاره مو ورته پاک شیان برابر کړي دي، او په ډیر مخلوقاتو مې دوی غوره کړي دي».

هم دا انسان دی چې الله تعالی د ده دخدمت لپاهر د دنیا ټول شیان پیدا کړي دي:

﴿ هُوَ الَّذِي خَلَقَ لَكُم مَّا فِي الْأَرْضِ جَمِيعًا ثُمَّ اسْتَوَىٰ إِلَى السَّمَاءِ فَسَوَّاهُنَّ سَبْعَ سَمَاوَاتٍ ۚ وَهُوَ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيمٌ ﴾ **البقرة: ٢٩**

« الله تعالی هغه ذات دی چې ستاسو لپاره يې د زمکې ټول شیان

پیدا کړي دي»، الله تعالی د انسان د فائدې لپاره بیلا بیل شیان تابعدار ګرځولي دي:

﴿ اللَّهُ الَّذِي خَلَقَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ وَأَنزَلَ مِنَ السَّمَاءِ مَاءً فَأَخْرَجَ بِهِ مِنَ الثَّمَرَاتِ رِزْقًا لَّكُمْ ۖ وَسَخَّرَ لَكُمُ الْفُلْكَ لِتَجْرِيَ فِي الْبَحْرِ بِأَمْرِهِ ۖ وَسَخَّرَ لَكُمُ الْأَنْهَارَ(٣٢) وَسَخَّرَ لَكُمُ الشَّمْسَ وَالْقَمَرَ دَائِبَيْنِ ۖ وَسَخَّرَ لَكُمُ اللَّيْلَ وَالنَّهَارَ ﴾ **إبراهيم: ٣٢ – ٣٣**

« او هغه ستاسو لپاره کشتۍ تابع کړي دي، چې په بحر کې د هغه په حکم رواني دي، او ستاسو لپاره یې نهرونه تابع ګرځولي دي، لمر او سپوږمۍ چې په منظمه توګه څرخې هغه یې هم ستاسو تابع کړي دي، او شپه ورځ یې هم ستاسو تابع کړي دي».

حیوانات یې هم د انسان په ولکه کې ورکړي دي تر څو په سفر او د سامان په وړلو کې ترې ګټه واخلي

﴿ لِتَسْتَوُوا عَلَىٰ ظُهُورِهِ ثُمَّ تَذْكُرُوا نِعْمَةَ رَبِّكُمْ إِذَا اسْتَوَيْتُمْ عَلَيْهِ وَتَقُولُوا سُبْحَانَ الَّذِي سَخَّرَ لَنَا هَٰذَا وَمَا كُنَّا لَهُ مُقْرِنِينَ ﴾ الزخرف: ۱۳

«هغه ذات ډیر پاک دی چې دا حیوان یې زمونږ تابع کړی دی په داسې حال کې چې مونږ د دې په خپله ولکه کې د رواستو توان نه لرو».

بیا الله تعالی د انسانانو د لارښوونې لپاره پیغمبران، کتابونه او صحیفی راولیږلې تر څو نافرمانه انسان ته سمه لاره وښایی.

د عمر په لحاظ ددغه انسان مختلفې مرحلې دي، ماشومتوب، هلکوالي، ځواني، بوډاوالي او هغه د ذلت عمر چې نبي کریم (صلي الله علیه وسلم) ورڅخه پناه غوښتي.

په وړوکتوب کې انسان مکلف نه وي، په هغه کوم حکم فرض نه وي، په خپله خوښه چې څه غواړي هغه لوي، د بوډا والي په حالت کې د انسان ټول قوتونه کمزوري شي، دماغ، د وینا قوت، د اوریدو قوت، د لیدو قوت په هر شی کې کمزوري راشي، چې د

هغې له امله انسان په ښه ډول د الله د عبادت حق نه شي ادا کولې، خو د ځوانۍ عمر يو داسې حالت دی چې په دې کې د انسان ټول قوتونه په خپل ځاي وي، هم دا عمر د سمون او فساد دی، له دې امله هره نظريه، فکر، نظام او حرکت د ځوانانو په واسطه قوي کيږی او د ځوانانو په واسطه کمزورې کيږي.

هم د دې اهميت له امله اسلام د ځوانانو د اصلاح او سمون لپاره خاص حکمونه بيان کړي دي، او د اسلام ستر پيغمبر (صلي الله عليه وسلم) په خپلو حديثو کې د ځوانۍ او ځوانانو اهميت ښکاره کړی دی، مونږ په دې مقاله کې هغه حديث راجمع کړی دی چې د ځوانانو او ځوانۍ په اړه دي.

دکتور رحمت الله زاهد اسلام آباد

## 1- ځواني غنيمت وګڼئ:

ځواني داسې بې ګټې او فايدې شی نه دی چې انسان دی هغه د الله په نافرمانۍ او سر غړونه کې ولګوي، بلکې په کار ده چې ځواني غنيمت وګڼل شي او هغه د خپلې او نورو د اصلاح، او دخپل او نورو د دنيا او آخرت د سمون لپاره وکارول شي.

**عن ابن عباس ، رضي الله عنهما قال : قال رسول الله صلى الله عليه وسلم لرجل وهو يعظه : « اغتنم خمسا قبل خمس : شبابك قبل هرمك ، وصحتك قبل سقمك ، وغناءك قبل فقرك ، وفراغك قبل شغلك ، وحياتك قبل موتك »**

**((المستدرك للحاكم، والبيهقي في شعب الإيمان))**

عبد الله بن عباس (رضي الله عنهما) د رسول الله (صلي الله عليه

وسلم) وینا نقل کوي چې :«پینځه شیان د پینځه و څخه مخکې غنیمت وګڼئ: ژوند د مرګ څخه مخکې، صحت د مرض څخه مخکې، وزګارتیا د روزګار څخه مخکې، ځواني د بوډاتوب څخه مخکې، او مالداري د فقر څخه مخکې».

«ځواني د بوډاتوب څخه مخکې» ځواني د بوډاتوب څخه مخکې غنیمت ګڼل او هغه کارونه کول چې بیا یې انسان په بوډاتوب کې نه شي کولی، د فکر څخه واخله د عمل پورې، د جومات څخه واخله تر میدان جنګ پورې، د لمونځ څخه واخله تر حج پورې، د اسلام د قبلولو څخه واخله په زمکه باندې د هغه د نافذولو پورې، کوم شی چې د ځوانی په حالت کې څه ډول کیږي په بوډا والې کې هغه شان نه تر سره کیږي.

نن که الله تعالی تا ته خائسته ځواني درکړی ده، او ټول قوتونه او صلاحیتونه په تا کې پوره شته دی، او ته دغه قوت او صلاحیت په ټوقو تقالو او نشو تماشو کې ولګوي، خو چې کله سبا ته بوډا شی او ستا قوتونه او صلاحیتونه کمزوري شي نو بیا خولی،

پګړۍ په سر کړی، په لاس کې لوټه او تسبیح ونیسي، او د جومات په څنګ کې «هوهو» کوی نو بیا ته څه کولې شی؟

*په ځوانی کې عبادت کړه چې عادت د پیغمبر دی*
*په زړخت کې خو لیوه هم توبه ګار شي له ګناه نه*

د نبي کریم (صلي الله علیه وسلم) د حکمت څخه ډک دغه وصیت عقل مند انسان متوجه کوي چې خپل ځان د راتلونکي لپاره وساتي، او د الله تعالی د ورکړل شوو نعمتونو څخه پوره ګټه واخلي، په ځانګړی ډول دالله تعالی طرف ته د دعوت په میدان کې، او د الله تعالی د رضا لپاره په کار کولو کې، ځکه چې د دعوت لار د مشکلاتو او ستختیو څخه ډکه لار ده، دا اسانه او تیاره لاره نه ده، بلکه د سربښندنې، صبر، جهاد، او شهادت لاره ده، او ځوانان د دې کارونو د سر ته رسولو طاقت لرلې شي، نبي کریم (صلي الله علیه وسلم) به هم د دعوت د کار لپاره اکثر د ځوانانو انتخاب کولو، نو څوک چې هم د خپلې ځوانۍ ساتنه

وکړي، د هغې اثر به په بوډاتوب کې ووینې او بدله به یې په آخرت کې د الله تعالی څخه تر لاسه کړي.

## ۲- د ځوانی په هکله به پوښتنه کیږي:

ځواني غنیمت ګڼل په کار دي او هغه د خپلې او نورو په اصلاح کې استعمالول په کار دي، ځکه چې د قیامت په ورځ به د ځوانی په هکله پوښتنه کیږي، چې تا د عمر دغه تر ټولو غوره برخه چرې او څه رنګ تیره کړي ده، د ځوانی څخه دې خپله څومره ګټه تر لاسه کړی او نورو ته دی څومره ګټه رسولی؟

**عن عبد الله بن مسعود (رضي الله عنه) عن النبي (صلي الله عليه وسلم) قال: «لا تزول قدما عبد يوم القيامة من عند ربه حتى يسأل عن خمس: عن عمره فيما أفناه، وعن شبابه فيما أبلاه، وعن ماله من أين اكتسبه وفيما أنفقه، وما ذا عمل فيما علم»**

**(( سنن الترمذي، أبواب صفة القيامة والرقائق والورع))**

عبد الله بن مسعود (رضي الله عنه) د رسول الله (صلي الله عليه وسلم) وينا نقل کوي چې: «تر هغه به د انسان قدمونه د قيامت په ورځ د الله تعالی د مخې څخه حرکت ونه کړي تر څو ورڅخه د پينځه شيانو په هکله پوښتنه ونه شي: د عمر په هکله چې په څه کې دی لګولې وو، د ځوانی په هکله چې په څه کې دي تيره کړی وه، د مال په هکله چې له کوم ځايه دی تر لاسه کړي وو، او په څه کې دی مصرف کړی وو، او په علم دی څومره عمل کړی وو».

عمر د الله تعالی ډير لوی نعمت دی په دې شرط چې انسان دغه عمر د الله تعالی په عبادت او د هغه د دين په خدمت کې مصرف کړي، په دغه ډول د عمر يوه خاصه برخه ځواني هم د الله تعالی ډيره لويه پيرزوينه ده، او دا دواړه نعمتونه داسې دي چې د تيريدو وروسته بيا نه راګرځي، نه تير شوی عمر راګرځي او نه تيره شوي ځواني، لدې امله پکار ده چې دغه دواړه نعمتونه د ضائع کولو څخه وساتل شي، او په کار ده چې انسان په خپل ژوند او

ځوانی کې د الله تعالی رضا تر لاسه کړي، تر څو که سبا ورځ په قیامت کې ورڅخه د دغه دواړو په هکله پوښتنه وشي نو چې سم ځواب ورکړي، خو که انسان خپل عمر او ځواني ضائع کړي وي، د دنيا په توقو تقالو کې يې مصرف کړي وي، د بې دينۍ په کارونو کې يې لګولې وي، د اسلام په دشمنۍ او د باطل په خدمت کې يې ترې کار اخستې وي، نو بيا به دغه انسان پښيمانه وي او د دغه کار پايله به د الله تعالی عذاب وي.

هم دا لامل دی چې په قرآن کريم کې الله تعالی په يو وړوکي سورة کې د انسان په عمر باندې قسم کړی دی چې انسان په تاوان کې دی، نو دغه عمر چې الله تعالی ورباندې قسم کوي که انسان يې ضائع کړي نو په پرته له شکه دغه انسان تاواني دی.

﴿ وَالْعَصْرِ(١) إِنَّ الْإِنسَانَ لَفِي خُسْرٍ(٢) إِلَّا الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ وَتَوَاصَوْا بِالْحَقِّ وَتَوَاصَوْا بِالصَّبْرِ(٣)
**[العصر: ١ – ٣ ]**

«په زمانه مې دی قسم وي چې انسان په تاوان کې دی، خو هغه خلک تاوانيان نه دي چا چې ايمان راوړی، نيک عمل کوي، او يو بل ته په حق او صبر وصيت کوي».

که يو انسان خپل ځان د تاوان څخه ساتل غواړي، د برياليتوب ژوند تيرول غواړي، نو هغه دی په دې سورت کې په څلورو خبرو باندې عمل وکړي.

۱- ايمان راوړل، ۲- د ايمان د غوښتنې سره سم نيک عمل کول، ۳- د نورو انسانانو د دنيا او آخرت د برياليتوب لپاره هغوی ته د حق نصيحت کول، ۴- د حق په لاره کې په راتلونکو تکليفونو په خپله هم صبر کول او نورو ته هم د صبر تاکيد کول.

دا څلور شيان د انسان ژوند د تاوان نه ژغورلې شي، که نه وي نو انسان هلاک دی، د يو ځوان لپاره د دې شيانو څومره اهميت دی هغه په خپله پوهيږي، په کار ده چې يو ځوان خپله ځواني په بې ګټې شيانو باندې د لګولو پر ځای په هغه شيانو ولګوي کوم چې د هغه ژوند د تاوان څخه ساتي، تر څو که له هغه څخه پوښتنه وشي چې تا خپله ځواني چېرته لګولې وه نو هغه به په ځواب کې ووايي

چې کومو شیانو چې د انسان ژوند د تاوان څخه ساتلو په هغې کې ما خپله ځواني مصرف کړی ده، په دې ځواب سره به انسان کامیاب شي او که ځواب یې بل وي نو دی به هلاک شي.
امام رازي (رحمه الله) د یو عالم قول رانقل کړی دی چې ما د سورة عصر مطلب د یو یخ خرڅوونکي څخه زده کړ، هغه په بازار کې چیغې وهلی چې په هغه چا رحم وکړئ چې د هغه سرمایه ویلي کیږي، کله چې ما د هغه دا آواز واورید نو ما په زړه کې وویل چې هم دا د سورة العصر مطلب دی، د ژوند کوم فرصت چې الله تعالی انسان ته ورکړی دی هغه د یخ د ویلي کیدو په شان په ډیر سرعت سره تیریږي، که دغه ژوند ضایع کړي، یا یې په ناروا کارونو کې ولګوي نو هم دغه د انسان تاوان دی.

## 3- په ځوانی کې د عبادت فضیلت:

څه رنګ چې مخکې وویل شول چې په ځوانی کې عبادت کول او ځواني په عبادت کې تیرول د پیغمبرانو عادت وو، او په ځوانۍ کې د عبادت ثواب او اجر ډیر زیات دی، تر دې چې په ځوانی کې

عبادت کوونکي به د قیامت په ورځ د الله تعالی د عرش د سیورې لاندې ناست وي.

**(( عن أبي هريرة (رضي الله عنه) عن النبي (صلي الله عليه وسلم) قال: "سبعة يظلهم الله في ظله يوم لا ظل إلا ظله: إمام عادل، وشاب نشأ في عبادة الله، ورجل ذكر الله في خلاء ففاضت عيناه، ورجل قلبه معلق في المسجد، ورجلان تحابا في الله، ورجل دعته امرأة ذات منصب وجمال إلى نفسها، فقال: إني أخاف الله، ورجل تصدق بصدقة فأخفاها حتى لا تعلم شماله ما صنعت يمينه")).**

**((صحيح البخاري،كتاب الحدود، باب فضل من ترك الفواحش))**

ابوهريرة (رضي الله عنه) د رسول الله (صلي الله عليه وسلم) څخه روایت کوي چې «د قیامت په ورځ به اوه قسمه خلک د الله د خاص سیورې د لاندې وي چې (په دغه ورځ به) د الله تعالی د سیورې پرته بلل سیورې نه وي: ۱- انصاف کوونکې مشر، ۲- د الله په عبادت کې لوي شوی ځوان، ۳- هغه سړی چې په ځواني کې الله یاد کړي او د سترګو څخه یې اوښکې روانې شي، ۴- د

جومات سره مینه کوونکې سړی، ۵- هغه دوه کسه چې په خپل مینځ کې د الله لپاره مینه کوي،

۶- هغه کس چې د یوی لوی خاندان خائسته ښځه ور ځخه د بد کاری غوښتنه وکړي او دی ورته ووایي چې زه د الله ځخه ویریږم، ۷- او بل هغه ځوک چې صدقه دومره پټه ورکړي چې په ښي لاس باندې د ورکړل شوی شي ځخه چپ لاس هم خبر نه شي».

هغه حال لږ را په زړه کړی کله چې به ټول انسانان لغړ د الله تعالی د فیصلی په انتظار وي، او الله تعالی به د خپل شان موافق په عرش باندې وي، هیچا ته به د خپل ځای ځخه د حرکت اجازه نه وي، ټول به د حساب کتاب په انتظارکې وي، د ګرمو سکروټو په شان په ګرمه زمکه به ولاړ وي، نه به ابادي وي نه ونه، نه چتری نه بل سیورې، هم په دې حالت کې به ځینې نیک بخته د الله تعالی د عرش تر سیورې لاندې په ډیر ښه حال کې ناست وي، نه به ګرمي وي نه به لمر، بلکه پټ او ښکاره دواړه په اطمینان کې وي، دا خلک به ځومره خوشحاله وي، په دې خلکو کې به هغه ځوان هم وي چا چې د خپل نفس غوښتنې د پښو لاندې کړي وي

او خپله ځواني يې د خپل رب په عبادت کې تيره کړي وي، خپل عمر او ځواني يې د خپلو نفسي غوښتنو په منلو کې نه وي برباد کړي، بلکه د الله په خوشحالولو کې يې لګولي وي.

امام ابن حجر (رحمه الله) وايي: «ځوان يې ځکه په ځانګړي ډول ذکر کړ چې په ځوانۍ کې د شهوت غلبه زياته وي، د نفسي غوښتنو قوت زورو وي، چې له امله يې عبادت ګران وي، نو په ځوانۍ کې عبادت کول د دې نښه ده چې د دې انسان تقوی په خواهشاتو برلاسې ده»

((فتح الباري، حافظ ابن حجر العسقلاني، 170/2))

ايا نن په سينماګانو، فلم خانو، کلبونو، د بې حيايۍ په مرکزونو، شراب خانو او عشقي مرکزونو کې د ايرکنديشند په يخې هوا کې غافله ځوان، يا په کوم چمن، باغ، تفريح ځاي کې د ونې د سيورې لاندې د خپلې معشوقې په څنګ کې ناست بې پروا ځوان د قيامت د ورځې د سختې ګرمۍ په هکله فکر نه کوي؟

ايا د دې غفلت څخه د بيدارۍ وخت نه دی رارسيدلی؟، ايا په هغه پنځوس زره کاله اوږده ورځ کې د خپل ځان لپاره د سيورې د پيدا

کولو په خاطر د الله عبادت د خپل عادت جوړولو وخت نه دی راغلی؟.

ځوانانو! د قیامت نه ختمیدونکي ژوند د دنیا د مینځه تلونکي ژوند په بدله کې مه ضایع کوئ، نن دا لړ ژوند د الله تعالی د حکمونو موافق تیر کړئ، تر څو چې سبا مو په نه ختمیدونکي ژوند کې نعمتونه او راحتونه په برخه شي.

## 4- په ځوانۍ کې امید او ویره:

ایمان د امید او ویرې تر مینځ ساتل کیږي، ویره د الله د عذاب څخه او امید د الله تعالی د رحمت او بخشش، که انسان یواځې ویره کوونکې شي او د الله تعالی د رحمت او مغفرت هیڅ امید ورسره نه وي، نو لدې امله انسان گمراه کیدای شي، او فکر به کوي چې هسې هم د بخښنې څه امید نه شته نو چې څه دی خوښه وي هغه کوه، که قیامت نه خائسته کیږي نو په دنیا کې خو ښې مزې وکړه.

او که بې ويرې شي او فقط اميد کوونکې شي، نو دا هم د خطر ځخه ډک کار دی، چې څه کوی هغه کوه، الله تعالی غفور رحيم دی بخښنه به وکړي، نه! ويره به هم کوي او اميد به هم ساتي، ويره به دې له ګناهونو ځخه ساتي، او اميد به دی د الله تعالی د رحمت او مغفرت طلب کوونکې کړي، له دې امله په يو حديث کې د يو داسې ځوان فضيلت ذکر شوی دی چې هم ورسره د الله د عذاب ويره وه، او هم يې د الله د رحمت اميد په زړه کې وو.

**عن أنس (رضي الله عنه) أن النبي (صلي الله عليه وسلم) دخل على شاب وهو في الموت، فقال: "كيف تجدك؟" قال: "أرجو الله يا رسول الله، وأخاف ذنوبي"، فقال رسول الله (صلي الله عليه وسلم): "لا يجتمعان في قلب عبد في مثل هذا الموطن؛ إلا أعطاه الله ما يرجو وآمنه مما يخاف"))**

**((سنن ابن ماجة، أبواب الزهد، باب ذكر الموت والاستعداد له))**

انس (رضي الله عنه) وايي چې رسول الله (صلي الله عليه وسلم) د يو ځوان خواته په داسې حالت کې ورغې چې هغه د مرګ په حال کې وو، رسول الله (صلي الله عليه وسلم) ورته وويل: څه حال دی؟

هغه وویل: ای د الله رسوله! د الله تعالی څخه امید هم لرم، او د خپلو ګناهونه ویره هم راسره ده، رسول الله (صلي الله علیه وسلم) وویل: د کوم انسان په زړه کې چې په دې حال کې دا دوه صفتونه یوځای شي، نو الله تعالی ده ته هغه څه ورکوي چې دې یې امید لري، او د هغه څه نه یې ساتي چې ترې ویریږي.

دا د نبي کریم (صلي الله علیه وسلم) د هغه ځوان لپاره زیرې وو، د چا په زړه کې چې امید او وېره دواړه یو ځاي شوی وو، او ښکاره خبره ده چې امید خو د عبادت پرته نه رامینځ ته کیږي، خامخا هغه به یو عبادت کونکې ځوان وو، او د خپل عبادت په وجه به یې دا امید لرلو چې الله تعالی به ورله په خپل رحمت کې ځای ورکړي، خو د دې سره بې ویری هم نه وو، چې خامخا به د هغه عبادت قبلیږي او نه هغه خپل ځان د ګناه څخه پاک ګڼلو، له هم دې امله د هغه په زړه کې ویره وه چې هسی نه د ګناه په وجه هغه ونه نیول شي.

رسول الله (صلي الله عليه وسلم) د هغه د دې حالت تعريف وکړ، او هغه ته يې زيرې ورکړ، چې الله تعالى به ستا اميد پوره کړي او د کوم شي څخه چې ويريږې له هغې به دې په امن کړي.

په دې حديث کې د بې اميده او بې ويرې ځوانانو لپاره د عبرت درس دی، مرگ خامخا راځي خو وخت يې معلوم نه دی، ماشوم هم مري، لوی هم، ځوان هم مري، بوډا هم، سړی هم مري ښځه هم، مالدار هم مري غريب هم، نو آيا د دغه ناڅاپي راتلونکې شي لپاره تيارې نه دی په کار؟ آيا کوم ځوان اميد او ويره د مرگ لپاره د توښې په ډول تياروي؟ په کار ده چې ځوان هغه عبادت د ځان لپاره توښه وگرځوي د کوم په نتيجه کې چې اميد او ويره پيدا کيږي.

د الله څخه ويره د مؤمن صفت دی، الله تعالى فرمايي:

﴿ إِنَّ الَّذِينَ هُم مِّنْ خَشْيَةِ رَبِّهِم مُّشْفِقُونَ(٥٧) وَالَّذِينَ هُم بِآيَاتِ رَبِّهِمْ يُؤْمِنُونَ(٥٨) وَالَّذِينَ هُم بِرَبِّهِمْ لَا يُشْرِكُونَ(٥٩) وَالَّذِينَ يُؤْتُونَ مَا آتَوا وَّقُلُوبُهُمْ وَجِلَةٌ أَنَّهُمْ إِلَىٰ رَبِّهِمْ رَاجِعُونَ(٦٠) أُولَٰئِكَ يُسَارِعُونَ فِي الْخَيْرَاتِ

وَهُمْ لَهَا سَابِقُونَ(٦١) ﴾ المؤمنون: ٥٧ – ٦١

« کوم خلک چې د خپل رب څخه ویریږي، او څوک چې د خپل رب په ایاتونو یقین کوي، او هغوی د خپل رب سره شریک نه جوړوي، او هغه څوک چې د عمل کولو سره بیا هم د هغوی زړونه په ویره کې وي چې دوی به خپل رب ته ورځي، نو دغه ډول خلک په نیک کار کې کوشش کوي او هغوی د یو بل سره سیالي کوي».

(( **عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ سَعِيدِ بْنِ وَهْبٍ الْهَمْدَانِيِّ أَنَّ عَائِشَةَ زَوْجَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَتْ سَأَلْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ هَذِهِ الْآيَةِ { وَالَّذِينَ يُؤْتُونَ مَا آتَوْا وَقُلُوبُهُمْ وَجِلَةٌ }قَالَتْ عَائِشَةُ أَهُمْ الَّذِينَ يَشْرَبُونَ الْخَمْرَ وَيَسْرِقُونَ قَالَ لَا يَا بِنْتَ الصِّدِّيقِ وَلَكِنَّهُمْ الَّذِينَ يَصُومُونَ وَيُصَلُّونَ وَيَتَصَدَّقُونَ وَهُمْ يَخَافُونَ أَنْ لَا يُقْبَلَ مِنْهُمْ أُولَئِكَ الَّذِينَ يُسَارِعُونَ فِي الْخَيْرَاتِ**))

(( سنن الترمذي، أبواب التفسير، ومن سورة المؤمنين.))

د مؤمنانو مور عائشه صدیقه (رضي الله عنها) وايي: «ما د رسول الله (صلي الله علیه وسلم) څخه د دې ایت په هکله پوښتنه وکړه (

والذين يؤتون ما آتوا وقلوبهم وجلة ) آيا د دې څخه هغه خلک مراد دي څوک چې شراب څښني، او غلا کوي؟ رسول الله (صلي الله عليه وسلم) وفرمائل: د صديق لورې، نه! دا هغه خلک دی چې روژی نيسي، لمونځونه کوي، خيراتونه ورکوي، خو د دې سره بيا هم ويريږي چې الله تعالی به دا قبول کړي او کنه، دا هغه خلک دي چې په نيکو کارونو کې تيزي کوي»

## ۵- د الله په لاره کې مخکې کيدونکي ځوانان:

الله تعالی چې ځوان ته کوم د ځوانۍ عمر او طاقت ورکړی دی هغه دی غنيمت وګڼي، او د قيامت په ورځ د صحيح ځواب ويلو او د الله تعالی عرش د لاندې په سيورې کې د ځاي پيدا کولو لپاره دی د الله تعالی د دين خدمت وکړي او د هغه په لاره کې دی خپل ځان مخکې کړي.

په دې کار کې دې صحابه کرام (رضي الله عنهم) د خپل ځان لپاره نمونه وګرځوي چې څه رنګ ځوان صحابه د الله تعالی په لاره کې مخکې کيدل، او په هر هغه ميدان کې يې خپل طاقت ښکاره کاوه

په کوم میدان کې چې د حق او باطل مقابله روانه وه،که د علم او عمل میدان وو، که د دعوت او تبلیغ، د خلکو د خدمت میدان وو، که د جنګ میدان، په هر ځاي کې ځوانان صحابه مخکې وو.
د رسول الله (صلي الله علیه وسلم) په هره غزا کې د ځوانانو صحابه ؤ کړنه ښکاره وه خو د اسلام او کفر په اولنۍ جګړه کې چې څه رنګه ځوانانو صحابو د خپل لښکر په مقابل کې د کافرو د درې چنده زیات لښکر مقابله کړي وه او هغه یې د ماتې سره مخ کړي وو د هغې مثال نشته، د دغه جنګ حال په حدیثو کې بیان شوی دی.

د دغې غزا یوه صحنه په دی حدیث کې بیان شوی ده.
**عن علي (رضي الله عنه) قال: "تقدم عتبة بن ربيعة، وتبعه ابنه وأخوه، فنادى: من يبارز؟ فانتدب إليه شباب من الأنصار، فقال: من أنتم؟ فاخبروه، فقالوا: لا حاجة لنا فيكم، إنما أردنا بني عمنا "**
**((سنن أبي داود، كتاب الجهاد، باب في المبارزة))**

علي (رضي الله عنه) وايی: «(د بدر د غزا په شروع کې) عتبه بن ربیعه رامخکې شو، چې ځوي او ورور یې ورپسې وو، او آواز

يې وکړ: څوک شته چې مقابلې ته راووزي؟ په دې کې د انصارو يو څو ځوانان په منډه ورغلل، عتبه ورته وويل: تاسو څوک يې؟ هغوی خبر ورکړ (چې مونږ انصار يو) هغوی ورته وويل: تاسو ته زمونږ اړتيا نشته!زمونږ د خپل تره زامنو (مهاجرين) سره کار دی...».

دا د ځوانانو صحابه ؤ عمل وو چې د مقابلې د بلنې په وخت کې د انتظار پرته په خپله خوښه ميدان ته کوزيدل، او د هغوی سره د خپل ځان کوم فکر نه وو.

نن هم زمونږ ځوانان مخکې کيږي خو سينماګانو ته، کلبونو ته، د سيال او تفريح ځايونو ته، نن هم ځوانان د خپل ځان لپاره يوه نمونه ګوري خو په صحابه کرامو کې نه، په خپلو مشرانو کې نه، بلکه په فلمي ستورو کې، د هالی وود او بالي وډ په هنرمندانو او ډمانو کې، په سندر غاړو کې، په لوبغاړو کې، او نوم به د مسلمان اخلي! تعجب دی په دې مسلمان او د هغه مسلمانی ته، او تعجب دی داسې ځوان او د هغه ځوانی ته چې خپل ټول قيمتي وخت په

بې ځایه کارونوکې لګوي، چې له امله يې په ډېرو جسماني او ذهني مرضونو اخته کیږي.

څومره به ښه وي چې زموږ ځوانان،صحابه کرام د خپل ځان لپاره نمونه کړي، د هغوی په نقش قدم باندې روان شي، د الله تعالی په لار کې سيالي وکړي، د دنیا د غمونو څخه بې غمه د اسلام په فکر کې شي، د دنیا څخه ډېر د آخرت په فکر کې شي نو الله تعالی به يې دنیا هم خائسته کړي.

نن موږ د دنیا د آبادولو لپاره خپل آخرت بربادوو، نو نه دنیا په لاس راغله او آخرت مو هم خراب شو، د دې لامل دا نه دی چې زموږ په ځوانانو کې صلاحیت نه شته، صلاحیت شته خو د هغې څخه کار نه دی اخستل شوی، جذبه شته خو هغه ورکه کړی شوی ده، فکر شته خو د هغې مخ غلط طرف ته اړول شوی دی، کوشش کیږی خو په غلطه لار کې.

ځوانانو له په کار دي چې خپل صلاحیتونه، جذبه او کوشش په سم طرف کې ولګوي، د بې فائدې ا وبې ګټې شیانو څخه دی ځانونه وساتې، خپل صلاحیتونه دی د خپل رب د خوشحالو لپاره په کار

راولي،ځوانان صحابه دی د خپل ځان لپاره نمونه کړي چې دا د کامیابۍ، او نیک مرغۍ لاره ده.
تر څو چې په ځوانانو کې د قربانۍ او سربښندنې جذبه نه وي پیدا شوی، د هغوی صلاحیتونو ته سمه لار نه وی ورکړل شوی نو تر هغې پورې د مسلمانانو تیر برم او عزت نه راګرځي.

## 6- د مشرانو عزت کوونکې ځوان:

په اسلام کې د ټولنې د بېلا بېلو مرحلو خلکو د یو بل سره د اړیکو ساتلو لپاره لارښوونې شوي دي، کشرانو ته د لویانو د عزت کولو حکم شوی دی، او لویانو ته پر کشرانو د شفقت او مهربانۍ امر شوی دی، د علماؤ احترام کول، په یو بل سلام کول، د خبرو اترو د ادابو لحاظ ساتل، او د غلطۍ په وخت کې د معافۍ کولو لارښوونې شوی دی.
په دغه ډول په قرآن اوسنت کې د ټول هغه کارونو څخه د ډډې کولو حکم شوی دی کوم چې په ټولنه کې د فساد او اختلاف لامل کیږي، لکه په سورة الحجرات کې چې کوم احکام ذکر شوی دی

د یوې مسلمانې ټولنې د پر ځای ساتلو لپاره پر هغې عمل کول ضروري دي.

نن ورځ د دغه اسلامي لارښوونو څخه د سر غړونې له امله په اسلامي ټولنو کې بېلا بېل فسادونه خپاره شوي دي، د بې اتفاقۍ، بدګمانۍ او بې امنیتۍ لامل هم دغه دي.

د ټولنې د بېلا بېلو مرحلو په لحاظ ساتلو سره په ځوانانو باندې د خپلو مشرانو احترام لازمي شوی دی، او د هغه ځوانانو فضیلت بیان شوی دی څوک چې د مشرانو احترام او عزت کوي.

**(( عن أنس (رضي الله عنه) قال: قال رسول الله (صلي الله عليه وسلم): "ما أكرم شاب شيخا لسنه إلا قيض الله له من يكرمه عند سنه"          ((سنن الترمذي، أبواب البر والصلة))**

أنس (رضي الله عنه) وايي چې رسول الله (صلي الله عليه وسلم) فرمايلي دي: «کوم ځوان چې د عمر د زیاتوالي له امله د یو بوډا عزت وکړي نو الله تعالی به د ده د بوډا والي په وخت کې یو څوک د ده د عزت لپاره مقرر کړي».

دا د رسول الله (صلي الله علیه وسلم) زیرې دی چې په ریښتینې کیدو کې یې هیڅ شک نشته، که یو ځوان له دې امله د یو مشر عزت وکړي چې له ده څخه په عمر کې زیات دی، نو یوه ورځ به خامخا داسې راشي چې دی به اړتیا لري او الله تعالی به د یو ځوان په ذریعه د ده عزت او خدمت وکړي، ځکه چې تا د چا سره څه قسم سلوک وکړ، هغه شان ستا سره کیږي، که چا د مشر بې عزتي وکړه، نو یو ورځ به د ده بې عزتي کیږي، او که چا د مشر عزت او احترام وکړ، نو د ده به هم عزت او احترام وکړای شي.

ځوان دی دا خبره په خپل ذهن کې کینوي،که نن هغه په سړک باندې د یو تیرېدونکي بوډا لاس ونیوه او د هغه مرسته یې وکړه، د هغه د اوږې بار یې واخست، په موټر کې ولاړ مشر ته یې ځای پرېښود، د کوم مظلوم سره یې کومک وکړ، نو سبا ته به الله تعالی د ده بدله ورکړي، خو که چا په کوم بوډا پورې ټوقې وکړی، هغه ته یې تکلیف ورسولو، په خپله په سیټ باندې ناست او مشر ته یې ځای پرېنښود، نو سبا به د ده سره هم داسې کیږي.

که چا د خپل پلار سره بد تميزي وکړه، نو سبا به د ده سره د هغه ځوی بد تميزي وکړي، که چا د خپلې مور خيال ونه ساته نو سبا به د هغه ځوی او لور د ده خيال ونه ساتي.

## ۷- د شکمن ځای څخه ليرې اوسيدل:

د ګناه څخه ځان ساتل او تقوی اختيارول د هر مسلمان مسؤوليت دی، خو په ځوانانو باندې دا مسؤوليت د نور څخه زيات دی ځکه چې د هغوی استعدادونه زيات دی، او د ګناه له امله د هغه صلاحيتونه ختميږي، صلاحيتونه د انسان سره د الله تعالی امانت دی او د ګناهونو له امله په دغه امانت کې خيانت کيږي، اسلام غواړي چې ځوانان خپل صلاحيتونه په خپلې او د نورو په ګټه راولي، او د هر هغه شی څخه ځان وژغوري چې د ده صلاحيتونوته تاوان رسوي، چې په هغې کې ګناه هم شامله ده.

اسلام د يوی ځانګړي ګناه «زنا» د منع کولو پر ځای د هغې خوا

ته د ورتګ څخه هم منع کړی ده :

﴿ وَلَا تَقْرَبُوا الزِّنَا ۖ إِنَّهُ كَانَ فَاحِشَةً وَسَاءَ سَبِيلًا ﴾

**الإسراء: ٣٢**

«او زنا ته نږدې مه ورځئ ځکه چې دا د بې کار او ناوړه لار ده».

«زنا نه کول» او د «زنا خوا ته نه نږدې کېدل» په دواړو کې لوی توپیر دی، زنا ته د نږدې نه ورتللو مقصد دا دی چې د هغه شي څخه هم ځان وساته کوم چې د زنا باعث کیږي، لکه: پردۍ ښځې ته کتل، بې باکه خبرې کول، ځان له کیناستل، مخلوط مجلسونه کول او داسې نور، ځکه چې دا زنا د نږدې تلو لارې دي، که دا لارې بندې شي نو زنا په خپله له مینځه ځي، خو که دا لارې آزادی وي نو بیا په زنا کې واقع کیدل ګران کار نه دی.

له دې امله نبي کريم (صلي الله عليه وسلم) خپل صحابه شکمن ځایونو ته له تللو او د شکمن کارونو د کولو څخه منع کړی دي، فرمایي چې:

**"الحلال بين، والحرام بين، وبينهما أمور مشتبهات، آلا فاتقوا الشبهات" (بخاري)**

«حلال هم ښکاره دی او حرام هم، خو د دواړو تر مینځ ځینې شکي شیان دي، نو د هغې څخه هم ځان وساتئ»، ځکه د شکمن شیانو کول انسان یو وخت په حرامو کې واقع کوي.

د ګناهونو وسیلې او لارې بندول ضروري دي، او دا ویل نه دي په کار چې په دې باندې هیڅ نه کیږي، ځکه زمونږ مخې ته د نبي کریم (صلي الله علیه وسلم) او د صحابه کرامو (رضي الله عنهم) ژوند پروت دی، سره له دې چې هغوی د ټولو څخه غوره مخلوق وو، خو بیا یې هم احتیاط کولو، لکه په دې واقعه کې:

**عن علي (رضي الله عنه) قال: "استفتته (صلى الله عليه وسلم) جارية شابة من خثعم، فقالت: إن أبي شيخ كبير قد أدركته فريضة الله في الحج، أفيجزئ أن أحج عنه؟ قال: "حجي عن أبيك" قال: ولوى عنق الفضل، فقال العباس: يا رسول الله! لم لويت عنق ابن عمك؟ قال: رأيت شابا، وشابة فلم آمن الشيطان عليهما"** [23].

**((سنن الترمذي، أبواب الحج، باب ما جاء أن عرفة كلها موقف))**

«علی (رضي الله عنه) وایي چې د خثعم قبیلې یوې پیغلې د نبي کریم (صلي الله علیه وسلم) څخه پوښتنه وکړه چې زما پلار ډیر

بوډا دی او پر هغه حج فرض شوی دی، آیا زه د هغه لپاره حج کولی شم، نو رسول الله (صلي الله علیه وسلم) ورته ووئیل: "هو! د خپل پلار پر ځای حج وکړه"، علی (رضي الله عنه) وایي چې په دې وخت کې رسول الله (صلی الله علیه وسلم) د (خپل تره ځوي) فضل څټ بل طرف ته واړوه، عباس (رضي الله عنه) پوښتنه وکړه: ای د الله رسوله! ولی دی د خپل تره ځوي څټ بل طرف ته واړوه؟ رسول الله (صلی الله علیه وسلم) ووئیل: "ما ځوان او پیغله (یو بل ته په کتو) ولیدل،نو د شیطان څخه پرې وویرېدم".

په دې حدیث کې د هغه خلکو لپاره د عبرت درس دی څوک چې وایي:د مخلوطو پروګرامونو له امله هیڅ نه کیږي، چې زړه پاک وي نو هر څه سم وي، خو آیا رسول الله (صلي الله علیه وسلم) د خپل تره په ځوی باندې بد ګمانه وو؟ ایا د یو صحابي په ځانګړي ډول د رسول الله (صلي الله علیه وسلم) د تره ځوي څخه د دغه ناوړه کارد سرته رسولو تصور هم کیدای شو؟ بلکه دا نبوي لارښوونې دي تر څو ټولې هغه لارې وتړل شي د کومو له امله چې په ګناه کې د واقع کیدو وېره وي، که د یو صحابي او

صحابيي په زړه کې شيطان وسوسه اچولې شي، او د اسلام د پېغمبر دا وېره وي چې کېدای شي د دی ځوان او پېغلې په زړه کې شيطان د ګناه وسوسه واچوي، نو د نن سبا په ځوانانو او پيغلو باندې څه اعتماد په کار دی.

"ځينې خلک وايي:چې د ناوړه اړيکو د مخنيوي لپاره د سړو او ښځو تر مينځ د حجاب لازمول او په ټولنه کې د هغوی په ګډ ژوند باندې بنديـز لګول په حقېقت کې د دوی په اخلاقو او سيرت باندې حمله کول دي، ځکه چې د دېنه خو دا معلومېـږي چې د ټولنې ټول وګړي بد کاره دي او څوک چې دا قسم پابنديانې لګول غواړي په حقيقت کې د هغوی په خپلو سړو او ښځو باندې يقين نشته.

دا خبره خو په ښکاره معقوله ښکاري خو په کار ده چې دا دليل نور هم مخکې بوتلل شي، هر قلف چې دروازی ته لګول کيـږي ګويا دا د دې خبرې اعلان دی چې د دی دکان يا د کور څښتن ټولو خلکو ته غله وايي، د پوليسو مقررول د دی خبرې دليل دی چې حکومت خپل ټول رعيت بدمعاشه ګڼې، په دغه ډول په کار وبار کې چې کو خطونه ليکل کيـږي او ضمانتونه اخيستل کيږي

ګویا دواړه طرفونه یو بل ته د خیانت ګر په سترګه ګوري.

کوم تدبیرونه چې د جرم د مخنیوي لپاره کیږي په هغې کې دا خبره شامله ده چې ټول هغه خلک په امکاني ډول مجرمان ګڼل کیږي په چا چې د دغه تدبیر اغیزه کیږي، د دې دلیل په رڼا کې خو دغه دلیل ویونکې خلکو ته د غلو، خیانت ګرو او بدمعاشانو په نظر ګوري خو د خپل عزت په معامله کې یې هیڅ پروا نشته، نو بیا ولی فقط په دغه یوه معامله کې احساسات دومره نازک شوي دي.

اصلي خبره دا ده چې د کومو خلکو په ذهنونو چې د پخوانیو اخلاقو اغیزه څه نا څه پاتي ده نو هغوی خو زنا او جنسي آزادي بده ګڼي خو دومره یې هم بده نه ګڼي چې د هغې د مخنیوي اړتیا دی محسوسه کړي، له دې امله د اصلاح او مخنیوي په تدبیرونو کې زمونږ او د دغه خلکو نظر جدا جدا دی، که په دوی کې د فطرت حقیقت په سمه توګه ښکاره شي او دوی دا معامله په سمه توګه وپیژني، نو دوي به زمونږ سره په دي کې اتفاق وکړي چې انسان تر څو پورې انسان دی او په هغه کې د حیوانیت ماده شته،

نو تر هغې پورې یو داسې تمدن چې د افرادو د خواهشاتو او د هغوی د نفسي غوښتنو پر ځای د ټولنې اصلاح او بریالیتوب غواړي نو هغه د دغه ډول تدبیرونو څخه غافل کیدای نه شي.

(( پرده، امام مودودي، ص: 151-152))

8- د پاک لمنۍ په خاطر واده کول

قرآن کریم کې الله تعالی فرمایي:

وَأَنكِحُوا الْأَيَامَىٰ مِنكُمْ وَالصَّالِحِينَ مِنْ عِبَادِكُمْ وَإِمَائِكُمْ ۚ إِن يَكُونُوا فُقَرَاءَ يُغْنِهِمُ اللَّهُ مِن فَضْلِهِ ۗ وَاللَّهُ وَاسِعٌ عَلِيمٌ

[النور: ٣٢]

« په تاسو کې چې څوک بې واده وي د هغوی نکاح وکړئ او ستاسو په غلامانو او وینځو کې چې څوک د نکاح وړ وي هغوی ته هم».

د دې حکم څخه معلومیږي چې الله تعالی د واده په کولو تاکید کړی دی، او د ټولو هغه نارینه او ښځینه د واده حکم یې کړی دی چې واده ته اړتیا لري، تر دې چې غلام او وینځه چې تر ډیره حده

بې واکه وي د هغوی د واده کولو حکم یې هم کړی دی خو په دې شرط چې په هغوی کې د واده د غوښتنو د پوره کولو صلاحیت وي، او دا مسئولیت الله تعالی د قوم په غاړه اچولی دی تر څو د دې کار اهمیت ښکاره شي، او د واده چې کومې ګټې دي ټول قوم د هغې څخه برخه من شي، او د واده د نه کولو چې کوم نقصانونه دي ټول قوم د هغې څخه وساتل شي، ځکه هیڅ یو عقل مند انسان د دې څخه انکار نه شي کولی چې که چېرې د جائز واده دروازه وتړل شي نو د ټول قوم اخلا قي حالت خرابیږي .

((اسلام کا نظام عفت وعصمت، مولانا ظفر الدین، ص: 55))

واده کول د ټولنې د سمون لامل کیږي، او د واده څخه سرغړونه، یا په هغې کې ورسته والی، یا د رسمونو او رواجونو له امله واده ګرانول په ټولنه کې د فساد لامل کیږي، ځکه خو نبي کریم (صلي الله علیه وسلم) ځوانانو ته د واده کولو حکم کړی دی تر څو د هغوی فطري غوښتنې په سمي او شرعي ټوګه پوره شي.

عن عبد الله بن مسعود (رضي الله عنه) قال قال لنا رسول الله (صلى الله عليه وسلم): "يا معشر الشباب من استطاع منكم الباءة فليتزوج فإنه أغض للبصر وأحصن للفرج، ومن لم يستطع فعليه

بالصوم فإنه له وجاء"

(( صحيح البخاري، كتاب النكاح، باب من لم يستطع الباءة))

عبد الله بن مسعود (رضي الله عنه) فرمايي چې مونږ ته د الله پیغمبر (صلي الله عليه وسلم) وفرمایل: « ای د ځوانانو ډلې! په تاسو کې چې څوک د واده طاقت لري نو هغه دی واده وکړي، ځکه واده کول د نظر د ښکته کولو او د شرم ګاه د ساتلو وسیله ده، او که څوک د واده طاقت نه لري نو هغه دی روژې نیسی ځکه هغه د ده د شهوت کمونکې ده».

په دې حدیث کې که یو طرف ته د واده کولو حکم شوی دی نو بل طرف ته د واده ګټې بیان شوي دي چې د واده له امله پاک لمنې پيدا کيږي او انسان د حرامو څخه ساتل کيږي.

د نکاح دا تاکیدي حکم په مصلحت او حکمت باندې ایښودل شوی دی، ځکه چې د انسان په خټه کې جنسی میلان پروت دی، چې د ځوانۍ د رسیدو ورسته د هغې‌نښې ښکاره کیږي او ورو ورو زیاتیږي چې د غوښتنې رنګ غوره کوي.

په خوب او ویښه، ګرځیدو راګرځیدو، ناسته ولاړه،هر وخت کې هم دغه یو احساس په ده باندې غالب او برلاسې وي، د زړه او

عقل تر مینځ هر وخت جنګ وي، دطبیعي بریدونو دمراعاتولو پرته خپله غوښتنه پوره کول غواړي خو عقل هغه سمبالوي، د عقل او طبیعت په دی جنګ کی کله عقل غالب وي او کله طبیعت برلاسې شي، د بې واده توب په زمانه کې په خاص ډول د ځوانۍ په ورځو شپو کې هم دا کشمکش جاري وي.

خو کله چې انسان واده وکړي او د نفسي غوښتنو د پوره کولو جائز لاره ورته پیدا شي نو انسان د دغه کشمکش څخه خلاص شي او د دغه بې فائدې خیالونو څخه نجات بیامومي او په ګټورو کارونو کې ورته د وخت د لګولو موقع په لاس ورشي، ارام او اطمینان ورته په برخه شي، او دا یو حقیقت دی چې کوم کار په سکون او اطمینان ترسره شي هم هغه ګټور او د ښو پایلو لرونکې وي .

( اسلام کا نظام عفت وعصمت، ص: 66))

د دې حکمونو او لارښوونو څخه د اسلامي شریعت هدف دا دی چې د جنسي پراګندګۍ ټولې لارې وتړل شي، نفسي غوښتنې د واده په دائره کې رابندې کړل شي، او د دغه دائرې څخه بهر چې څومره ممکن وي جنسي فعالیتونه له مېنځه یوړل شي، او کومې

غوښتنې چې طبيعي دی د هغې د پوره کولو لپاره يو مرکز جوړ کړل شي، چې هغه مرکز د سړي لپاره خپله ښځه او د ښځې لپاره خپل خاوند دی، تر څو انسان د ټولو غير طبيعي او په خپل لاس جوړې شوي ذهني پراګندګی او د کار د انتشار څخه وژغورل شي او په خپل ټول طاقت سره د ټولنې خدمت وکړي، او د صنفي محبت او جاذبيت کومه ماده چې الله تعالی د دې کار خانې د چلولو لپاره په سړي او ښځي کې پيدا کړي ده هغه د يوی کورنۍ په جوړښت کې مصرف کړي.

واده کول د هر اړخ څخه يو غوره کار دی، ځکه چې واده د انساني او حيواني فطرتونو غوښتنې او د الله تعالی د قانون هدف پوره کوي، او د واده څخه ډډه کول (يا ورسته کول، هغه د رواجونو او رسمونو، او ولورونو د ډير والې له امله ګرانول) يو ناوړه کار دی ځکه چې د دې له امله به يوه بدې خامخا رامينځ ته کيږي، يا خو به انسان د فطرت غوښتنې نه پوره کوي او خپل قوت.په د فطرت سره په جنګ کې ضايع کوي، او يا به هغه د فطرت د غوښتنو په مقابل کې بې وسه کيږي او په هر غلطه او ناجائزه لاره به خپلې فطري غوښتنې پوره کوي ( پرده، ص: 43

Download from: aghalibrary.com

(196

له دې امله ځوانانو ته په کار دي چې د خپل پیغمبر په نصیحت عمل وکړي او د خپلې پاک لمنۍ لپاره واده وکړي او خپل صلاحیتونه د ذهني کشمکش پر ځاي د ټولنې د سمون او جوړښت لپاره په کار راولي.

الله تعالی دې مونږ او زمونږ ځوانانو ورونو ته د اسلام د دې پیغام د پوهې او پرې د عمل کولو توفیق راکړي. آمین.



Download from: aghalibrary.com